


Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# Introduction مقدمه

- د دغه مقالې اصل ورژن په ۱۳۹۸ کال کې د هیواد د خپلواکی د ۱۰۰ کلیزې په مناسبت لیکل شوې ده، دا يې یواځې یوه خلاصه ده
- نو ځکه د اماني دورې ټول اقتصادی او مدیریتی موضوعات په نقطه وار شکل (بولیټ پواینټ شکل) راوړل شوي دي. او د هیواد د خپلواکی د ۱۰۱ کلیزې په مناسبت یوځل بیا خپریږي.
- ډیر ژر به د دغه مقالې اصل ورژن په انګلیسي ژبه په یو نړیوال معتبر ژورنال کې خپور شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د غازي امان الله خان د اصلاحاتو دوه اصول

1. عايد بايد وګټل شي هيڅوک په مفت شکل عايد نشي ترلاسه کولای.

2. ټول افغانان د قانون له مخې سره برابر دي، هيڅ افغان پر بل افغان برتري نه لري. (کاکړ, 1384)

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د ملي عاید په ویش کې عدالت

- عبدالرحمن خان د کابل محمدزیو ته چې د سردارانو په نوم یادیدل د بیت المال څخه مفت معاشات ورکول.
- ملایانو، ملکان، پیرانو، خانانو او سیدانو ته هم مفت معاشات حواله شوي وو او دا د مغلو له وخت څخه یوه عنعنه گرځیدلې وه.
- امان الله خان د (عاید باید وگټل شي) اصل ته په کتو سره پورته ټول مفت معاشات لغوه کړل.
- شاه غازي د کابل ښاروالی ته امر وکړ چې د گونډو او بېوزله ښځو لیست چمتو کړي ترڅو یې په روغتونونو او لابراتوارونو کې په دندو وگماري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ادامه...

- امان الله خان لومړنی کس وو چې د مالیاتو د اخستلو په برخه کې د عدالت لپاره یی قانون (مالیاتی نظام نامه) وایسته.
- اجباري کارونه او د خلکو بیګار کول په مطلق شکل بند شول. (غبار, 1368)
- غازي امان الله خان د بیځایه مصارفو څخه د مخنیوي په موخه یې د خپل واده مصارف د یوې ښوونځي په جوړلو سره اجرا کړل او خلکو ته یی وښوده چې بیځایه مصارف ونه کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د غازي په وخت کې گمرکات او مالیات

- د وخت د مالیې وزیر محمد هاشم خان وو د گمرکاتو لوی رئیس عبدالرحمن لودین وو.
- ډیری اضافي گمرکي محصولات له منځه یووړل شول. امان الله خان لومړنی کس وو چې د مالیاتو نظام نامه یې جوړه کړله.
- مالیات چې د عبدالرحمن خان په وخت کې 1/3 برخه د جنس په شکل تر لاسه کیدل، په نقدو بدل شول او قانون وایستل شو چې په هرو دریو کالو کې د مالیاتو نرخ باید تغیر وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ادامه...

- ❖ مالیات چې د امیر عبدالرحمن خان په وخت کې د اجاره داری د میتود له مخې خانانو او بانفوذه اشخاصو ته په اجاره ورکول کیدل، له امله یې د دولت او خلکو ترمنځ فاصله ډیریده او خانان حاکم کیدل او ددولت لپاره خنډ جوړیدل(فیوډالیزم)، دا سستم له منځه ولاړ او پرځای یی د حکومتی دفترونو له لارې مالیات راجمع کیدل. چې د خلکو او دولت ترمنځ نیغه اړیکه ټینګه شوه. (کاکړ, 1384)
- ❖ د مالیاتو د معافیت سره سره ملي عاید له ۸۰ ملیون افغانۍ څخه ۱۸۰ ملیون ته لوړ شو. یعنی ٪۱۲۵ زیاتوالی پکې راغی.
- ❖ د فی جریب زراعتی ځمکو مالیات د ۵ افغانۍ څخه ۸ افغانی ته لوړ شول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ادامه...

- د پورته عوایدو څخه ٪۶۰ یی د ځمکو او حیواناتو مالیات وو. (واک, 2005)
- د عوایدو ونډه له بیلابیلو منابعو څخه په لاندې ډول وه: (غبار, 1368)

1. د ځمکو مالیات ۸۰ ملیونه.
2. د حیواناتو مالیات ۲۵ ملیونه.
3. گمرکي مالیات ۴ ملیونه.
4. د صکوکو محصول ۱۰ ملیونه.
5. متفرقه عواید ۲۵ ملیونه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# پانگونه او بهرني سوداګري

- شاه غازي امان الله خان په خپل سفر کې د اروپا ډېرو لويو توليدي موسساتو ته ورغی، يواځې په انګليستان کې يې ۷ صنعتي ښارونو ته سفر وکړ.
- اروپا ته د ده دې سفر پر مهال حتی کمپنيو به د هغه د راتګ او کوربه توب لپاره سيالي کوله.
- شاه غازي اضافي او د سوداګرۍ پر وړاندې خنډ جوړوونکي ماليات له منځه يوړل، بهرنۍ سوداګري تشويق شوله.
- جرمني، پولنډ او شوروي اتحاد د افغان سوداګرۍ لپاره ماليات معاف کړل.
- د جرمني، هند او شوروي اتحاد سره د سوداګرۍ تړونونه لاسليک شول، او پانګونې پراختيا وکړه.
- د غازي په وخت کې حاکمانو شرعي معاملات رامنځ ته کړل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ادامه...

- په نتیجه کې یې د دواوو جوړولو، موټر او طیارو د ترمیم، سیمنټ، گوگرد، چرم جوړولو، صابون جوړلو، عطر جوړولو، یخي، غوړي جوړولو کمنۍ په کابل، مزار او کندهار کې رامنځ ته شولې.
- د ډیرو نورو تولیداتو د فابریکو جوړولو پلانونه او قراردادونه تړونونه ترسره شوي وو.
- د بدخشان د لاجوردو، د هرات د نفتو استخراج، د اوسپنی ویلې کولو فابریکې، د اوسپنی معدنونو ایستلو، ذغال، سرپ ، تباشیر او مرمرو استخراج او جوړولو لپاره ترتیبات ونیول شول.
- په کابل کې د ملي تولیداتو نمایشگاه جوړه شوه او د مامورینو یونیفورم جوړول د وطني تولیداتو څخه اجباري شول (روستایي, ۲۰۱٦).

(c) ketabton.com: The Digital Library



# په اماني دوره کې زیربنایي پروژې

- د امان الله خان په وخت کې د غازي بند او غزني سراج بندونه تکمیل شول.
- غازي لومړنی کس ؤ چې په پغمان، جلال اباد او کندهار کې یې د برق سټیشنونو په جوړولو پیل وکړ.
- د کابل او ولایاتو ترمنځ د تلیفون د مزو غزولو کارونه پیل شوي وو.
- په ۱۹۲۸ کال کې یې د جرمني او فرانسې د دوه لویو کمپنیو سره په افغانستان کې له جنوب څخه تر شمال پورې د ریل ګاډي د پټلۍ جوړولو قرارداد وشو، د ذکر شوو کمپنیو ۴ تنه متخصصین کابل او له هغه ځایه کندهار ته راغلل خو دا هرڅه د بچه سقاو لخوا د خاورو سره خاورې شول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# اماني پوځي شتمني

- د لگښتونو د کنترول لپاره يې پوځ لږ کړ ځکه بهرني خطر نه موجود وو.
- د پغمان په لويه جرگه کې يې علان وکړ چې ۵۰۰۰۰ پنځوس زره ټوپک يې رانيولي او د ۵۰۰۰۰ نورو ټوپکو او يو مليون کارتوسو د رانيولو لپاره يې قرارداد کړى د دې لپاره تر ۱۵ کلنى لوړ هر افغان بايد ۵ افغانى او هر دولتي مامور د يوې مياشتې معاش ورکړي.
- د پغمان په لويه جرگه کي دا هم ثرگنده شوه چې د باروتو د موجوده فابريکي علاوه بله فابريکه هم جوړوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ادامه...

- د لومړي نړیوال جنګ په جریان کی د باروتو لومړنی جوړوونکی «رضابیک» چې یو ترکي متخصص وو، کابل ته راغی او همدلته مړ شو شاه د هغه په جنازه کې خپله ګډون وکړ.
- هر عسکر چې کله مقرر کیدلو د ۳ میاشتو معاش به یی د پوځی اصلاحاتو لپاره ځیني ګرځولو.
- د شاه غازي په وخت کې افغانستان ۱۱ جنګی الوتکې درلودلې.
- د سپینو باروتو د تولید یوه فابریکه هم موجوده وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# بهرني کومکونه او پورونه

- اروپا ته د غازي په سفر کې بهرنيو هيوادونو د پورونو ورکړې ته زړه ښه نه کړ.
- خو بيا هم المان ٦ مليون مارکه پور ورکړ.
- په سفر يې ټول ۷۰۰۰۰ اويا زره پونډه مصرف وشو خو مجموعاً يې د ۲۰ مليون مارک په اندازه مرستې او ۴٦۰۰۰۰ فونډ په اندازه سوغاتونه هيواد ته راوړل (کاکړ, 1384).
- فرانسې ۱ مليون فونډ د گمرکاتو او تجارت د اصلاح لپاره ورکړل.
- جرمني خپل بانکونه او خصوصي سکتور تشويق کړل چې د افغانستان سره د پورونو او پانگونې په برخه کې اقدامات وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د غازي امان الله خان په وخت کې پیسه

- د ۱۰۰ افغانیو (کابلی پیسو) ارزښ د ٦۰ هندی کلدارو سره برابر وو، هغه ځکه چې په افغانۍ سِکه کې د کلدارو په نسبت د نقرې وزن لږ وو.
- د لومړي ځل لپاره د ۱، ۵، ۲۵، ۵۰ او ۱۰۰ واحدونو لرونکې کاغذي پیسې چاپ شولې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د اماني دولت لګښتونه

- انګریزانو چې مخکې د برطانوي هند څخه د ساتنې په موخه افغانستان ته کومې پیسې ورکولې هغه یې بندې کړې، یو شمیر مالیات لوړ شول او لوړ معاشات کم شول چې دا خپله د حکومت ضد کړیو لپاره د تغذیې یوه وسیله شوه. (کاکړ, 1384)
- د انکشافي چارو د اجرا سره مصارف هم لوړ شول.
- د مصارفو زیاته برخه حربي، درباري او ښوونیزو چارو ته ځانګړي شوې وه  د دولت عواید عمدتاً په لاندې ډول په مصرف رسیدل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ادامه...

- وزارت حربیه ۴۰ ملیونه افغانۍ
- وزارت دربار ۲۰ ملیونه افغانۍ
- وزارت معارف ۱۵ ملیونه افغانۍ
- وزارت داخله ۱۲ ملیونه افغانۍ
- وزارت خارجه ۷ ملیونه افغانۍ
- وزارت تجارت ۴ ملیونه افغانۍ
- وزارت مالیه ۳ ملیونه افغانۍ

- وزارت عدلیه ۲ ملیونه افغانۍ
- د تعمیراتو مصارف ۱۰ ملینونه افغانۍ
- متفرقه مصارف او خریداری ٦٧ ملیونه افغانۍ (غبار، 1368)

نوي لګښتونه په ودانیو لکه اماني ماڼۍ، رغتونونو، خارجي اړیکو او سیاسي نمایندګیو، وسلو، الوتکو او خارجي متخصصانو پر معاشاتو اجرا کیدل. (کاکړ، 1384)

(c) ketabton.com: The Digital Library



# په اماني دوره کې اداره او مدیریت

- شاه غازي لومړنۍ پاچا وو چې د استخدام، او ترفیعاتو قانون یی رامنځ ته کړ.
- د پغمان په لویه جرګه کې پریکړه وشوه چې په رسمي اداراتو کې د کارمندان د احترام لپاره یوا ځې یو لقب وکاروي چې هغه عبارت وو له (ګران/ عزیز) څخه.
- د مالیاتي مدیریت لپاره یی په کابل کې د اصول دفتري په نوم مکتب جوړ کړ چې هر مالیاتي مامور باید دغه مکتب لوستی وی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ادامه...

- د محلي حکومتونود موثریت لپاره یې په مرکز کې د حکام په نوم مکتب تأسیس کړ.
- هغه لومړنی کس وو چې د علماؤ اداره یې رامنځ ته کړله او دا یې قانوني کړه چې یواځې افغاني ملایان د امتحان تر ورکولو وروسته ملایي او امامت کولای شي.
- د اداري چارو د اصلاح لپاره یی کندهار ته ۳۱ ورځې سفر درلود، هره اداره یی له نیږدې وکتله او اداري کارمندان یې و ارزول د هغوی سره یی له نیږدي ګډ کار وکړ. (امیري, ۱۹۹۹)

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د غازي په پاچاهي کې اداري فساد

- د پاچا او لومړي وزیر ترمنځ مخالفتونو تاوتریخوالی رامنځ ته کړ، د جمهوري ګوند اړوند او په پټه مخالفت کوونکي وزیران د مامورینو د بدې او رشوتونو د تشویق سبب شول. (واک, 2005)
- د رشوت اخستونکي د بنبل کیدو پریکړه مخکې قاضي صلاحیت وو، د پغمان په لویه جرګه کې دغه صلاحیت د قاضیانو څخه واخیستل شو یواځې پاچا دا کار کولای شوی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د اماني دور اقتصادي ستونزې

- د خوست او پکتیا بغاوت په ۱۹۲۳م کال کې د دولت لپاره د لوی مصرف باعث شو او د دوه کلونو د بودجې مصرف ور باندې اجرا شو. (واک, 2005)
- اروپا ته د پاچا د سفر په کال (۱۹۲۷م) کې د بېوسه بزگرانو او مالدارانو څخه د پاتې مالیاتو جمع کولو د دولت ضد کړی تقویه کړې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# References


1. اميري, ع. (۱۹۹۹). د افغانستان اقتصادي حالت ته یوه کتنه. پېښور.
2. روستايي, ع. (۲۰۱۶). زنده یاد میر غلام محمد غبار. استقلال.
3. غبار, م. (1368). افغانستان در مسیر تاریخ (Vol. 1). کابل: مرکز نشر انقلاب با همکاري جمهوري.
4. کاکړ, م. (1384). د پاچا امان الله واکمنی ته یوه نوې کتنه. جرمني: د افغانانانو د کلتوري ودې ټولنه.
5. واک, م. ا. (2005). غازي امان الله خان د خپلواکی ستوری. جرمنی: د افغانستان د کلتوری ودې ټولنه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# The End

*Thanks for you attention*

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**